مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۰۷/۲۱

# کاشکې نه وای داسې شوي

روح د ستر خوشال په قبر کې نارام شي
چې ترې پاتې خاني برخه د بهرام شي

د لاهور مغول ته سر په سجده پرېوځي
د غازي نيکه لمسی وي، خو غلام شي

لوی ملت يې د پلار پلار په وياړ بابا کا
د زوی زوی يې د رنجيت په دام بدنام شي

څه ارواوې به قبرونو کې عذاب وي
څه زلمي به مات په زړونو کې ناکام شي

بېننګي به څه ملالې سترګې ډنډ کړي
د ايوب روح به زړه توری له باګرام شي

دا وطن د خدای د مينې کرونده ده
د کلدارو درمند نه دی چې تمام شي

دا وطن د ګيلهمنشهيد بيرغ دی
د خانانو ښادر نه دی، چې ليلام شي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ